سلطان جان کلیوا ل ۲۰۲۱/۱۱/۰۶

# د پانـــي خـــور هـيـلـه

زما نـوم پانـه دی

ز ددي لويي وني، د يوي هسكي څانگي لور يمه

زه ډيره ښکلي يمه، دومره ښکلي

چی د خاوريني دنيا لوی واکمنان

زما ليدو ته راځي

هغوي يواځي زما ديدن نه کوی

غوارِی ما خپله کاندی

او د هوس تنده په ما ماته کړی.

خو زه د هغه باغ د ونې لورېم

چی د ايمان او له غيرته جوړ باغوان لري

زه د هغه نختر سکه خوريمه

چي يی په څانگو کی بازان اوسي

او، زما د هر دعوه گير

له هوس ډکي سترگي

په فولادي پنجو، له کولکو را باسي.

زه خزانيږم او رژيږم هله

چی می ساتونکی او پالونکی باغوان

په چا پرديو خرڅ شی

چی د چنار او د نختر په څانگو

د باز په ځای تيوسان ځاله وکړی.

نو زما گلانو ورنو



لطفاً مقالات خود را به این آدرس ارسال بدارید | مهرباني وکړئ خپلې مقالې دې آدرس ته ولیږئ: info@arianafghanistan.com

ما د پردیو له لاسو وژغورئ.

نومبر/۲۰۲۱/۴
تورنتو - کاناډا



برای مطالب دیگر سلطان جان کلیوا ل روی عکس کلیک کنید